# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



انجنیر سید عبدالقادر

۲۰ جولای ۲۰۱۴

# آیا رایه ورکونکي پښېمانه دي

دټولټاکنو د دواړو پړاونو په تبلیغاتي کمپاین کې دوو کټه ګوریو افغانانو ګډون کړیوو ۰ لومړي کټه ګوري هغه کسان وه ، چی په راتلونکي حاکمیت کې یې دځان او خپلي ډلي لپاره نامشروع ګټې نغښتي وي ۰ دوهمه کټه ګوری هغه کسان وه چی دلنډ وخت له پاره په مزدوري باندي نیول سوي وه ۰ او دنده یي داوه چی دچل او درواغو له لاري ولس تیر باسي چی درایي اچوني مرکزونو ته دښه راتلوونکي له پاره ورسي ، او خپله رایه وکاروي ۰ یوشمیر سیاسي او مدني ډلوهم دخپلو صفوفو د ارادو ، برنامو او دټولني دعیني واقعیتونو څخه په ښکاره سرلغړونه ددي استعماري لوبي په تبلیغاتي کمپاین کي په ځانګړي توګه د تحول او تداوم دټیم دکامیابي له پاره په پراخه توګه ګډون کړیوو۰ په دی لوبه باندی نه یوازي دولس هغه شمیر رایه ورکونکي بلکه دا سیاسي ګوندونه او مدني ټولني هم دنوماند په پچو وعدو او احساساتو باندي وغولیدل ، دوي فکر کاوه هغه څه چی نوماند ددوي سره وعده کړي ده او هم په خپل تبلیغاتي کمپاین کي وایي هم هغسي به کوي ۰ اودا ډلی په دی باندی پوهیدلی چی ولس په تیرو ۱۳ کلونو کي د مصلحتونو او ائتلافي حکومتونو او دهغوي په ذریعه دچور او چپاول څخه په تنګ راغلي دي ، اوددي تر څنګ دنوماندو په نوو څرګندونو او شعارونوباندی یی هم باوردرلودی ۰چه هغوی دواړو نوماندو څو ځله په مختلیفو ویناوو کي خپلو پلویانو او رایه ورکونکوته په ښکاره ډول اعلانول چی په هیڅ ډول سره به ائتلافي دولت جوړ نه کړي ۰ دا د دواړو نوماندوورځني شعار ګرځیدلي وو.

دا سیاسي ګوندونواومدني ټولنوداسي دوونوماندوته کمپاین کاوه، چی نه یوازي نوماند ان بلکه ددواړو ټیمونو درهبري اکثریت غړي د۲۰۰۱ دبن داستعماري کنفرانس ددروازي څخه راوتلي کسان وه ، چی هلته دافغانستان دپلورلو سندونه لاس لیک او تبادله سوي دي ۰ چی په پایله کي یي دځینورسنیو په حواله تر نیم میلیون پوري بي ګناه افغانان شهیدان ، کورونه اوکلي یي په کنډواله تبدیل سوي ، اویو شمیر جنایتکاران دلس ګونو او سل ګونو میلیونو ډالرو خاوندان سوي دي ۰ځکه نو اګاه اوپاک رایه ورکوونکي باید دافغان ولس څخه دخپلي تیر وتني له کبله بخښنه وغواړي ، داځکه چی ددوي داکړنه دملي ګټو سره په تقابل کي قراردرلود ی ۰ ددی ترڅنګ دنوماندو داستازو له خوا یو پر بل باندي دافغاني کلتور او دکلماتو دعفت څخه لیري د تلویزیوني شبکو له لاري داسي کلمات استعمالیدل چی لید ونکي یي ډېر تعجب سره مخامخ کول ۰ ددوي دا ناندري هغه سرحد ته ورسیدلي ، چی درایه ورکوونکو هیلی یي دمایوسي سره مخامخ کړی ۰او دنوماندو اصلي مخي بیاهغه وخت ورایو ورکوونکو ته ښه ښکاره سولي ،چی د امریکا د بهرنیو چارو دوزیر( امریکایي ارباب ) په راتګ سره د ورقي بل مخ واوښتی اوډیر څه میدان ته

راووتل ۰امریکایي ارباب دټولو رایو د بیا کتني او هم دملي وحدت تر نامه لاندي د ائتلافي دولت دجوړیدو امر ورکړ، او ویلي دي چي دټولټاکنو دوهم پړاو کوم بایلونکي به ونه لري دا ځکه چي ګټونکي به ولس مشر او بایلونکي به صدراعظم ددوي په اصطلاح داجرایه کمیټي رئیس وي ۰ او رایه ورکونکي یی مسخره کړل.

اوس نوولس دبهرنیو استعماري او کورنیو لاس پوڅو څخه داسي پوښتنه کوي ، چي دلومړي پړاو د( ۲۰۰ ) او دوهم پړاو د( ۲۵۰ ) سوو افغانانو دشهادت اصلي عاملین څوک دي ؟ آیا دغه نوماندان نه سي کیدلاي چي ولس یي دمحکمي میز ته راکش کړي ، چي د ( ۴۵۰ ) سو پاکو افغانانو ژوند یي د خپل یوه نا مشروع سیاسي تجارت قرباني کړ ؟ اوددی پاکو شهیدانو کورني یي دغربت پر ټغرباندي کښینولي ۰ د انوماندو چي ځانونه آزاد او مستقل بلل ، امریکایي ارباب ته یي دتیرو ۱۳ کلونو په څیر بیا هم خپل سرونه ټیټ او رایه ورکونکي یي په لغته ووهل ،او هغوي یي دیوه انجام سوي کار سره مخامخ کړل ۰په رشتیا سره که دټولټاکنو پروسه د جان کیري دامرسره سمه مخ ته ولاړه سي ، نودراتلونکو دووکلونو له پاره یعني دامریکایي پوځونو تر وتلو پوري به د افغان ولس حاکمیت دتیرو ۱۳ کلونو څخه لا هم بد هغه کسانو په ولکه کي ولویږي چي دولس له خوا په لویو بشري او اقتصادي جنایاتو باندي متهم دی ۰ دوي به په راتلونکو دوو کلونو کي داسي یو پراخ اقتصادي جنایات تر سره کړي ، چي تیر ۱۳ کلن تاریخ به دخلګو څخه هیر کړي ۰ داځکه چي داشغال تر بیرغ لاندي به ددوي دچور او چپاول وروستني دوه کلونه وي ۰په اوس مهال کي ددوي له نظره هغه دولت چي دتیکنوکراتانو ( غربي غلو ) ، جهادي بشري او اقتصادي جنایتکارانو حاکمیت په کښی تمثیل وی دملي وحدت په نا مه یا دیږی ، دا ځکه چي ددوي دګټو منعکس کوونکي او ولس یرغمل وي.

دنیویارک ټایمز دورځپاڼي هغه څرګندوني چي د ري ورځي مخکي میدان ته راووتلي چي داصلاح او هم پالي ټیم پلویانودټولټاکنو دلومړنیو پایلو څخه وروسته غوښتل پر ځینو دولتي ودانیو باندي حملي تر سره کړي۰ اویا ددوی دپلویانوله قو له چه موا زي حکومت به اعلانوی،دا هغه څه دی چه لاس پوڅي واکمنان او ډلي یي نه سي کولاي چي دخپل ارباب له نظره لیري یوه سرکښي وکړي ۰ ځکه نو دنیو یارک ټایمز خبره یوه تبلیغاتي بڼه لري ۰ ګرچي شمالي تلوال په دي هکله یوه پخواني تجربه هم لري ، هغه په ۲۰۰۱ کال کي کوم وخت چي د( سي آي اي ) یو ټیم دسر ګروپ له لوری د دوستم سره دطالبانو په وړاندي یو ځاي سوو ۰ نومعلم عطا دمزار اوسني واکمن په پنجشیر کي د ( ګري شرون، د سی آی ای دګروپ مشر) تر غوږو وروړسول،چه که زما سره هم د سي آي اي یو ټیم یو ځاي نه سي، نو زه به ددوستم پر قواوو باندي حمله وکړم ۰خو لومړی یي معلم عطا ته ( ۲۵۰۰۰۰ ) امریکایي ډالره وروليږل خودهغه قناعت حاصل نه سوو ، وروسته په پنجشیر کي امریکایي سرګروپ ده ته هم دسي آي اي یو ګروپ ورولیږي ۰د ( ماموریت سقوط ،کتاب ، چګونه سي آي اي عملیا ت براندازي طالبان را در افغانستان رهبري کرد ؟ د کتاب لیکونکي ګري شرون )۰

دیورتنیو کرښو څخه معلومیږي چي لاس پوڅي په څونه اندازه کوښښ کوي ، چي ځان تر بل ښه وطن پلورونکي وښیي او دخپلو شخصي او ګروپی ګټو له پاره دامریکا استخباراتي شبکي ( سي آي اي ) ځان نیژدي کړي ۰ چي دانو افغا ن ولس له پاره ډیردتوهین ځاي دي ، چي جهادي مشرانو یي داسلامیت او افغانیت څخه لیري وکومو ځایونو ته ځانونه ورسول ۰ دلیکني په وروستي برخه کي باید ووایو ښه به داوي ، چي د هغو سیاسي ګوندونو او مدنی ټولنورهبریو چي د صفوفو دارادی څخه یی لیری داشغالی ځواکونو په لوبو کي په یوه او بله بڼه برخه اخستي ده ، صفوف یي باید په دي حساسو سیاسي شیبو کي تعویض او تر پوښتني لاندي راولي، او په عوض کي یي داسي کسان ځاي ناستي کړی ، چي ملي ګټو ته ژمن او تر اشغال وروسته په راتلونکی حاکمیتونوکی دخپل سیاسي فعالیت له کبله وکړای سی چه خپل ګوند په حا کمیت کی سهیم او یا دیوه قوی اپوزیسیون په توګه دولس په چوپړ کی ودروي ۰

داسي معلوميږي چه دالوبه شايد د۲۰۱۴ کال تر وروستيو پوري په يوه اوبله بڼه با ندی وغځيږي او وروسته يوه لنډ مهاله اداره رامنځ ته سی ۰ ودې هدف ته د ژر رسيدو له پاره بايد د دپورتنيو سياسي گوندونو او مدنی ټولنو درهبريو او مستقيلو سياسي کارپوهانوترمنځ دافغانستان دملی گټو په نظر کي نيولو سره يو تفاهم رامنځ ته سي ، او ديوه داسي نړيوال کنفرانس دجوړيدو له پاره پرنړيوالو باندي زور واچوي چی ددی کنفرانس دلاری دافغانستان داوسنی لانجی سياسی حل رامنځ ته کړی ۰ او په دی نړيوال کنفرانس کي با يد دجگړي ددواړو اړخونو په گډون يو شمير محلی پيرندل سوي شخصيتونه ، ملی گټو ته ژمن ( مستقل سياسی کارپوهان ، دسياسی گوندونو ، مدنی ټولنو ) استازی هم وروبلل سی ، څو په پايله کي يي يوه ريښتينه لنډ مهاله ملی اداره رامنځ ته سي ، چی دا به هم دنړيوالو او هم افغان ولس په گټه باندي وي ۰ تمت باالخير

۱۸ / ۷ / ۲۰۱۴